خط روشن ز نور حق مزین با کرامتها
دلیل فوز مؤمن کافران را چون شرر گردد

شرر یا بند، روند آنها به سوی سرنوشت خویش
از آن جاییکه جای شان مقام بد (سقر) گردد

ولی ، مؤمن که جنتها به استقبال روح او ـ
خرامد تازه گردد ، حله های مفتخر گردد

رود با صد نزاکتها دلیلش خون سرخ او
شهادت شاهد یکتای او قاض قدر گردد

روان پر فتوح رهروان حق (شهیدان) را
ملائک مرحبا گویند، ره شان بی خطر گردد

جوار لطف یزدانی نمایند ملجأ و مأ وای
دعا گوی روان شان تمامی (بحر و بر) گردد

(فروغگر) هر چه میخواهی به زیر بیرق قرآن
فروغ حق نصیبت ، زاد تو از آن (مقر) گردد

عیسی محمد «عصمت قانع»

پاخون

بیا د شرق په لمن اور دی‌سری‌لمبې‌دی‌سورشبخون‌د
د آیشیا زرگی لړ زیږی د مؤمن ولس پاڅون د

خپور پلو د پلو شو دی د اورو نو په لمبو ک
د ککرو طواف کیږی په کعبو د مور چلو ک
سره شراب دی څکل کیږی په خونرنگه شان پیالوک
خم له پا کووینوړک دی مستان ډوب دی‌په‌نیشوک

د اسلام زور گونده کړی دوحشی کمون زنگون د
د ایشیا زرگی لړ زیږی د مؤمن ولس پاڅون د

بیا د حق توره گرانیږی د باطل په لښکریانو
د غضب تندر غږیږی د مادیت په بنده گانو
دسرو وینو طوفان ډوب کړ سور لښکر دخون نوشانو
د محشر صحنه نه جوړه زړونه ریږدی د زمریانو

ویده شوی را بیدار شول دطاغوت !! کام افسون د
د آیشیا زرگی لړ زیږی د مؤمن ولس پاڅون د

شنی جنډی په رپیدو دی د بیوزلو په جونگړو
د تیا روز ړو نه رڼا کړل پلو شو د ما شینگړو
د تاریخ سوړ تتر تو د شو په لمبو د شنو لو خړو
د وحشت لښکر ما تیږی د سپین غر په لوړو ترو

په درو د هندوکش کی خپور پیغام د او ښبتون د
د ایشیا زرگی لړ زیزی د مؤمن ولس پا څون د

د چوپتیا په ځای غوغا ده بوگنیدلی گونگسی د
د منزل په لور روانی د بیدار غور ځنگ څپی دی
نورجهان سره لړزیږی دلته جوړی زلزلی دی
دا قیام د حق قیام دی لوی قوت ئی پرگنی دی
تور تغر په تولیدو دی څرک څرگند د سباون دی

«حقپال»

حرکت او اتحاد

په سکون کې مرگ مرموز دی بدلون نشته
چې د زړه حرکت نه وی ژوندون نشته
که غریز غړی په گډه کار و تکړی
د خبرو په نړی کې سمون نشته
له نفاق یې چې د سترگو لی پولی یو وړی
بل د او ښکو ، وینو هسی جیحون نشته
یوه لیکه د (مرصوص) چې جوړه نشی
په اسلام کې د بری ، بل قانون نشته
د نفاق په گرداب ځان دوبوی څله
چې ښیری کې د وحدت مریستون
د جفاتو دم گولی به په زړه و خوری
چې وفا یې په وعده او ترون نشته
چې مجنون د اتحاد ور پسی گرځی
د هدف د لیلی چیری کوندتون نشته
د وحدت په او بو مړ د نفاق اور شی
څه د ریښتی دی ! دا نو ولی پاڅون نشته
د دلیل ځای پکی کله شته «حقپاله»
اسلام دین د اتحاد دی بیلتون نشته

د آیشیا زړگی لړزیری د مؤمن ولس پا څون دی
آرین سره سینه کی د غیرت بتی تو دیری
ککری د برمیالیو د اسلام په پت رغړیری
بڅدی تیول لمبه لمبه دی دشفق څنډی سری کیږی
د افق له روڼی غیږی حریت نور را ځلیږی
و بری ته رسیدونکی د مؤمن د قوت یون دی
د ایشیا زړگی لړ زیږی د مؤمن ولس پاڅون دی

وحدت

(سبب نابودی اغیار)

ملت مؤمن بدانید بخت تان بیدار شد
این زمانی بریژنف مرده و مردار شد
از خدا منکر برفت اندر دیار نیستی
از زمین رختی ببست و مستقر در نار شد
رفت آن ملعون ملحد در جهان باز پرس
خون برفت از چشم ببرک در زمن جو بیار شد
مخلصانش جملگی گشتند محزون و غمین
در کیوبا کاسترو از فرقتش بیمار شد
هفته غم بر دیار روسیه گشته پدید
کنگره باغم بدل شد جمله تار و مار شد
امت مسلم بدانید اعتبار خویش را
جنت و دوزخ برای ابتلا اعمار شد
تا بکی غفلت کنید ای مسلمین پاک دل
چون شما غفلت نمودید اوج استعمار شد
نعره تکبیر را از قلب پاک خویشتن
گر برون آرید خواهد دفع استثمار شد
مشت وحدت را زنید بر فرق استعمار شان
ز انکه وحدت باعث نابودی اغیار شد
خشم ملت تیر جانسوز است بر مستکبرین
بر مجاهد این سخن تقدیم از کوهسار شد
ملت مؤمن بپا خیزید از روی یقین
دشمن دین شما از دست تان نا چار شد
روز رستا خیز آمد بر سر اعدای دین
مشت مستضعف بفرق اهل استکبار شد
وعده بر بیچارگان است پیشوائی بر زمین
بر امید این تسلی قلب من بیدار شد

زمونږ د سیستم تشکیلات

توانائی به ئی هم مخ په زوړ وه او طالب به لا هغه اصلی هدف ته چې دا علوم ئی د هغو د زده کړې په خاطر لوستلی وو ، نه وو رسیدلی .

نو چې په اصل هدف به ئی پیل وکړ نو له فقه ، اصول فقه ، عقاید اصول حدیث د احادیثو معتبر او صحیح کتابونه اصول تفسیر او د قرآن کریم معتبر او منلی شوی تفسیرونه به ئی ټول په یو او یا زیات نه زیات په دوه کلونو کښې له سر څخه تیر اولو.

لدې کبله دا درسی پروگرام له یوې خوا د دې سبب او باعث گرځید لو چې د اسلامی علومو اصلی او اساسی زده کړې وروړ ، وروړ له مینځه ولاړه شی .

هغه خلک چې د اسلامی علومو د پوهانو په نوم له مدرسو څخه فارغیږی ډیره برخه ئی د دې پرځای چې په اسلام پوه شی د اسلام له اساسی اصولو څخه خبر شی هغه به دفنونو او فلسفی استادو او د هغو په ارخ به ئی خورا او پړده څیر نه کړلای شوه مگر یوازې اسلامی علوم وو چې دی ئی له څیړنې څخه په پوره ډول ناتوانه وو .

او له بلې خوا د داوړ زده کړې په سیوری کښې عام ولس نشو کولای چې هریو یا زیاته برخه په مستقیمه توگه له اسلامی مصادرو څخه استفاده وکړی .

ځکه دلته د اسلامی مصادر و څخه د استفادې لپاره د فنونو او فلسفې لوستل اساسی شرایط گڼل کیده او ځرنگه چې د هر چا په توان کښې نه وه چې ټول عمر د علم په زده کړه کښې تیر کړی نو ځکه هیچا نشوای کولی چې په اسانه توگه د اسلام اساسی مصادر یعنی قرآن کریم او نبوی حدیثونو څخه څه گټه واخیستلای شی .

نو ځکه زمونږ د ټولنې زیاته برخه خلک له اسلامی علومو څخه بې خبره پاتې شول او خلک پدې پوه نشول چې اسلام څه ته وائی ؟: اسلام دژوند د اجتماعی، سیاسی ، اقتصادی او نورو مهمو او اساسی اړخونو د جوړښت لپاره کومې لارښوونې لری ؟

زیاتو خلکو فکر کولو چې اسلام یوازې څو معین عبادات دی چې په معینو وختونو کښې باید سرته ورسیږی .

قرآن کریم د تبرک یو کتاب دی چې په مختلفو غونډو کښې پری تبرک ترلاسه شی او بس ، د دغې له قرآنی او نبوی تعلیماتو څخه لری ټولنې ځینو غړو چې لیک او لوست زده کړ او پدې پوه شول چې ژوند باید څه اصول مقررات او اساسات ولری .

له بلې خوا د وی پدې هکله له اسلام څخه معلومات نه درلود نو د شرق او غربی تیئو او غیر انسانی فکرونو په غولوونکو دا مونو کښې را گیر شول چې نن ئی په نتیجو کښې زمونږ دټاټوبی گر د ولس ربړول کیږی .

چې په ځنگ کښې ئی په خدای او د خدای په دین مین قهرمان ولس په جهاد لاس پورې کړ ، پداسی حال کښې چې له دوی سره هم داسلامی اصولو، لارښونو او مقرراتو په هکله پوره او بشپړ معلومات نه وو .

نوگورو چې د اسلامی جهاد په نوم غیر اسلامی کارونه د ټولنې په مینځ کښې ښکاره کیږی .

۳- په ملی ځایونو کښې د اسلامی علماو روزنه :

کله چې اسلامی علماء د ټولنې

نه واک او دربار څخه بې برخې شول ، نو اسلامي علماوو ، د مجبوریت له کبله ملت ته مخه کړه، هلته ئې د رسونه هم جوړ کړل ، وسایل ئې هم له همغو ځایونو څخه ترلاسه کړل او زده کوونکي ئې هم همله وروزل .

د ملت د نا منظم والي او ګډوډۍ له کبله اسلامي علماوو ونشو کړای چې خپلو زده کړو او ځانو ته د ژوند معقول اومنلي نظام برابر کړای شي .

ملت چې نشو کولای د خپلو ستو نزو په څنګ کښې د ځینو نورو خلکو بار هم په اوږو واخلي هم نشو کولای چې دی کار ته په یو معقول شکل دوام ورکړي .

نو ځکه ئې د اسلامي علماوو ، لپاره د سخات (سقاط)، دنکاح تړلو، سرساني ، زكات ، عشر پیماني او نورو نومونو سره د ژوند د تأمینولو لیاري چارې برابرې کړې وې .

او د اسلامي علومو د زده کړې لپاره ئې برسیره په پورتنیو لیارو د ډوډۍ درا ټولولو طرز مینځ ته راوستل وو چې وروسته بیا په (چړ) او (چړ یتوب) سره مشهور شو .

که څه هم پورتني لیاري غیر اسلامي لیاري نه وې . که څه هم حرامې او ناروا لیاري نه وې

که څه هم شریعت منع کړې نه وې . که څه هم اخیستل ئې شرعاً ګناه نه وه ،

که څه هم په پیل کښې ئې دذلت او سپکا وې ، نښې نښاني نه لیدل کیدې .

که څه هم په پیل کښې دا د خلکو د هغې مینې او محبت اظهار وو ، چې له اسلامي علماو او طالبانو سره ئې درلود .

که څه هم د چړ بنا په همدې اساس وه ، چې د کلي ټولو خلکو به غوښتل چې هر یو باید دطالبانو په خوراک برابر ولو کښې په دا و طلبانه ډول برخه واخلي . او بالآخره که څه هم داوړ ژوند د اسلامي علماوو او د ملت د تړلو او خپلو مینځو اړیکو د نژدې کولو ، خورا په زړه پورې لیارې وې .

خو د وخت او شرایطو په او ښتو سره داوړ ژوند د ذلت ، سپکاوې او حقارت نښه وګرځید له هو !

چې علماوو په اذان ، امامت ، درس او تدریس ـ او ـ ـ ـ له ملت څخه څه نه وای اخیستې د انساني طبیعت او بشري غوښتنو له کبله د ژوند تیرول ـ او بیا په خاص ډول د اسلامي علومو مخ په وړاندې بیول مشکل څه چې بالکل محال ښکاریدل .

خو کاشکي چې وروستیو علماوو زمونږ د پخوانیو ، او لومړنیو نیکانو په قدم ، پل ایښې وای او ددې پرځای چې پدې برخه کښې د عوض اخیستلو د جواز فتواء ورکوله

د هغو فاسدو ، ظالمو او اسلام دښمنو وا کدارانو پر ضد ئې قیام کړی وای

د هغوی له مینځه وړلو فتوا ئې صادره کړې وای ، چې د بیت‌المال مالونه ئې په درباري شاعرانو ، کیسو لیکونکو او د دربار په صفت کوونکو مصرفوا وه.

ځکه چې دې طرز زمونږ ټولنه له لاندینیو سهمو ستو نزو سره مخامخ کړه :

الف : څرنګه چې پدې ډول ژوند تیرول له خورا ذلت او حقارت سره یو ځای و، نو داسلامي علم زده کول خلکو ته عیب و بریښیده او هغه چانې د زده کړې اراده نه کوله چې هغه په ټولنه کې د شریف ، عزیز او شاغلي په نوم پیژندل شوي وو ،

ځکه هغو به چې په سل ګونو خلکو ته ډوډۍ ورکوله ، څنګه‌به‌یې منلې وی چې‌ځوی وروړ او یا کوم خپلوان ، یې د نورو په کو ځو کښې ټوک ټول کړي.

ب : څرنګه چې پدې ډول ژوند سره اسلامي علماء د نورو په اوږو بار وو ، خلکو هڅه کوله چې د خپلې کورنۍ هغه غړي چې د نورو کارونو د اجرا کولو توان ورسره نه وي د اسلامي علومو زده کړې ته وقف کړي.

ج : عام ولس له اسلامي زده کړې څخه محروم شو څکه چې دا چیرته د هر چا په توان کښې پوره وه چې د نورو لاس ته کښېنې.

د : د اسلام دښمنانو ته ئې موقع په لاس ورکړه چې د اسلامي علماووپسې په ډیره آسانیا تبلیغات وکړای شي.

د عام ولس ذهنیت ئې په ضد بد کړای شي چې سنې عالمان مفت خواره او د ولس په اوږو بار پیتی دی. ([illegible])

تلاش درراه تحکیم . .

تلخ و بی ثمر اختلاف را بچشم سر مشاهده کردند و این طلسم ننگ را شکستند و آرزوی دیرین شان که همین اتحاد موجود (اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان) است بسر آورده شد ، حفظ و نگهداری و استحکام این اتحاد فرض همهٔ ملت ماست زیرا اتحاد حکم خداوند(ج) و صدای ضمیر ملت بخون خفته ماست .

همه دیدیم که از ویرانی ما بتخانه آباد گردید و از پریشانی ما کفر جمعیت یافت ، نشود که باز نزاع برسر الفاظ از حقیقت دوران نگهدارد . ما درعین حال که یقین کامل داریم کاخ اتحاد موجود ماچنان پی افگنده شده است که از باد و باران آنانیت عده ئی و توطئه های دشمن گزند نخواهد یافت آنانرا که هنوز هم خیال فاسد نفاق را در سر داشته باشند و «بود» خود را در «نابودی» دیگران بجویند ازیکسو به محاکمه در برابر ملت و از سوی دیگر به این آیهٔ خداوند(ج) که در حق آنانیکه عهد و سوگند شانرا به ثمن قلیل میفروشند متوجه میسازیم :

«ان الذین یشترون بعهد الله وایمانهم ثمناً قلیلاً أولئک لاخلاق لهم فی الاخرة ولا یکلمهم الله ولا ینظر الیهم یوم القیمة ولا یزکیهم ولهم عذاب الیم» .
(ال عمران ، آیه : ٦٧)

ترجمه :

هر آیینه کسانیکه میخرند به پیمان خدا(ج) و سوگندهای خود بهای اندک را آن گروه نیست هیچ بهره ایشان را در آخرت ونه سخن میکنند با ایشان الله(ج) و نه نگاه میکنند بسوی ایشان روز قیامت و نه‌پاک میکرداند ایشان را و مرایشان راست عـذاب دردناک .

انقلاب اسلامی افغانستان همه ملت ما را بیدار ساخته است گوش های شان شنوا و دیده های شان بیناست وخوب متوجه حرکات و اعمال آنانی اند که در پیشبرد انقلاب سهم بارز دارند . ما یقین کامل داریم به گفته اقبال «چیز دیگری» که در جبین «ملت گم گشته کوه و کمر» ما دیده است نقاب از رخ خواهد برداشت ولی آنانی را که ره کعبه پیموده اند با آنانیکه ره ترکستان طی نموده اند تمییزخواهند کرد .

شورای اقتصادی . .

(۱۹۷۰) بین اعضای کومیکان به امضاء رسید نرخ کالا های وارداتی و صادراتی کومیکان تا سال (۱۹۷۸) ثابت تعین گردید و ان عبارت از اوسط نرخ های معمول بین سال های (۱۹۶۵) (۱۹۶۹) بازار های جهانی بود .

به این ترتیب نرخ ها در تبادله اجناس ارزش واقعی را نشان نداده بلکه بصورت جبری تعین شده که در تماس با جهان خارج از بلوک مشکلات فراوان برای هر عضو بوجود آورده است. این نرخ ها ارزش اساسی ترین قوانین اقتصادی یعنی عرضه و تقاضا را انعکاس داده نمیتواند.

از همه مهمتر اینکه در معاملات کومیکان و تجارت ذات البینی روسیه و هر یک از ممالک اروپای شرقی (ربل) بحیث پول حاکم در آمده. روس ها سعی می ورزند که (ربل) را مثل دالر حیثیت بین المللی دهند با انهم این هدف فقط در معاملات کومیکان تعمیل شده و (ربل) در بازار های بین المللی قابل تبادله نیست.

با رائج شدن (ربل) در معاملات کومیکان ممالک صادر کننده نمی تواند قیمت واقعی اموال شانرا بدست ارند و یا بتوانند توازن حقیقی را بین صادرات و واردات برقرار سازند. زیرا که ممالک مذکور بواسطه (ربل) بدست آمده، صرف آن اموال را خریداری میتوانند که مملکت مقابل (کومیکان) خود حاضر به تهیه ان باشد. مملکت که اموال شانرا در بدل (ربل) صادر مینمایند در معاملات بین المللی به علت بی ارزش بودن (ربل) خسارات زیادی را متحمل می گردند این امر باعث شده که ممالک اقمار جبراً به خاطر جلوگیری از خسارات که در نتیجه تبادله پولی عائد شان میگردد امتعه روسی را خریداری نمایند. این یکنوع اتکاء غیر مستقیم ممالک اقمار بر روسیه است که نجات از ان به یک انقلاب اساسی ضرورت دارد.

یکی از موارد یکه روسیه به استثمار ممالک اقمار می پردازد سرمایه‌گذاری تحمیلی ممالک مذکور در پروژه های انکشافی روسیه میباشد گرچه این روش در استثمار روسیه تازه نبوده اما در این اواخرشکل جدی ترو خطرنا کتری را بخود گرفته است.

ممالـــک اقمار در سال هـــای (۱۹۵۰) و (۱۹۶۰) در پروژه های انکشافی روسیه سرمایه‌گذاری مینمودند اما به پیمانه محدود جهت انکشاف پروژه‌های‌موجود وبه‌شکل معاملات دوجانبه صورت میگرفت اما بعد از سال (۱۹۷۰) یعنی بعد از آنکه بر نامه های به اصطلاح (فراگیر و همه جانبه) بین ممالک (کومیکان) به امضاء رسید فصل تازه در روش استثماری روسیه آغاز گردید پروژه لوله های گاذ طبعی اورنـــبرگ (Orenburg) از بزرگترین و با ارزش ترین پروژه‌ها برای روس ها است که توسط سرمایه های چندین ملیتی اروپای شرقی روی دست گرفته شد. این پروژه که به اساس قرار داد های که در بیست و چهارمین کانگرس (کومیکان) در سال (۱۹۷٤) در صوفیه امضاء گردید روی دست گرفته شده، چاه های گاز طبعی (اورنگ برگ) را به ممالک اروپای شرقی وصل مینماید. قیمت مجموعی لوله های مذکور که از چاه های (اورنبرگ) تا بند (اوژگوردو) واقع درسرحد روسیه وچکوسلوا کیا به طول (۲۷۸۰) کیلومتر توسط هنگری چکوسلوا کیا، بلغاریه، پولند وآلمان غربی اعمار میگردید ابتدا به پنج بلیون دالر تخمین گردید که البته قیمت تمام شد بالا تر از آن بوده است. ممالک اقمار سرمایه های هنگفت شانرا در پروژه مذکور سرمایه گذاری نموده لوله ها و ۱۵۸ پایه توربین های آنرا از غرب در بدل اسعار نایاب خارجی تهید نمودند.

گـــرچه پروژه مذکور که به سرمایه ممالک دریافت کننده به امید دریافت نمودن گاز طبعی روسیه جهت مایحتاج داخلی شان اعمار گردیده بود روس ها از ان جهت انتقال گاز طبعی اضافی به

ممالک اروپای غربی نیز استفاده می نماید. اگر لوله های مذکور با ظرفیت (١٠/٥) مليون متر مکعب اعمار می گردید به هر یک از ممالک اقمار ـ مقدار(٨-٢) مليون متر مکعب گاز طبعی تحویل می داد اما ظرفیت لوله های مذکور به(٢٨) مليون مترمکعب بلند برده شد. این مصارف اضافی نیز توسط ممالک اقمار تأمین گردید و پول اضافی که از این مدرک بدست می آید صرف در حساب درآمد روس ها معامله میگردد.

فعالیت های کومیکان روی پالیسی (رشد تخصص) در رشته خاص صنعتی که ان مملکت از هر نقطهٔ نظر آماده ان است استوار میباشد. روس ها میکوشند که تمام منابع مادی و معنوی یک مملکت را متوجه یک فن و رشته خاص صنعت نموده ان را به سطح تخصص بین المللی رسانده احتیاجات بلاک را از طریق ان مرفوع سازد در حالیکه در خود روسیه توجه به رشد همه جانبه صنایع مبذول گردید. هدف از پیش گرفتن این پالیسی این است که از خودکفائی ممالک عضو جلوگیر نموده روش تجارتی انها را طوری عیار نمایند که هر یک از ممالک، قسمتی از ضروریات ممالک عضو را تهیه نمایند. مثلاً فن تولید سامان و لوازم پمپ نمودن و استخراج نفت در رومانیا، تیلفون در هنگری، بس های مسافر بردار در چکوسلواکیا، تولید موتر های کوچک برق در بلغاریا و فن کشتی سازی و تولیدات سامان و لوازم یدکی ان در المان شرق و پولند به حد کافی انکشاف داده شد تا ممالک مذکور بتوانند با استفاده از امکانیات شان سطح تولید را بلند برده از کمبود مواد مذکور که صنایع روسیه نمیتواند احتیاجات داخلی انرا مرفوع سازد جلوگیری نماید،

صنایع ممالک اقمار نه تنها مصروف تأمین احتیاجات صنعتی و اقتصادی روسیه است بلکه در سیاست بین المللی هم اهمیت حیاتی دارد. بازار اقتصادی کومیکان که بیشتر روی انگیزه های سیاسی بوجود آمد در عمل هم یکی از وسائل تعمیل سیاست خارجی روسیه گردید. مثلاً بعد از اینکه روسیه در پی بدام کشیدن ممالک تازه آزاد شده اسیائی و افریقائی که با استعمار غرب دشمنی رویا روئی داشتند بر آمد ممالک اقمار را تشویق و حتی مجبور ساخت که اموال شانرا به بازار های ممالک مذکور صادر نموده نگذارند دشمنی آنها با غرب به سردی گراید. مثلاً صدور سلاح چکوسلواکی به مصر در زمانی صورت گرفت که ناصر بخاطر ملی نمودن کانال سویز به کمک های عاجل روسیه ضرورت داشت اما روس‌ها نخواستند که با پشتیبانی علنی از ناصر، غرب را با خود دشمن سازند لذا بر چکوسلواکیا فشار وارد نمود که قرار داد فروش سلاح را با مصر امضاء نماید.

هدف و انگیزه اساسی بوجود آوردن روابط بین ممالک اقمار و جهان سوم صرف سیاسی است. چون روس ها توانائی انرا نداشتند که ضروریات همه دوستان خود را تأمین نمایند بر ممالک اقمار فشار وارد نمودند تا قسمتی ازین بار را بدوش گیرند. به این ترتیب روس ها توانستند با استفاده از توانائی صنعتی اروپای شرق اهداف سیاسی اش یعنی به انحصار کشیدن بازار های جهان سوم، تقویت ریشه دشمنی مستعمرات سابق یا استثمار گران، بذرتخم کمونیزم و بدست آوردن نقـاط مهم ستراتیژیک جهان مثل مصر، عراق و اند و نیز با را تأمین نمایند. رسیدن به این اهداف از طریق وسائل و امکانات روسی ممکن نبود لذا حکموانان کریملین

با سر دادن شعار های کاذب ایدیولوژیکی ممالک اقمار و رهبران (ماسکویت) را در چنگال خود داشته از انها در صحنه سیاست بین المللی به نفع خویش استفاده نمودند ، مثلاً : ویتنام که اهمیت ستراتیژیکی در سیاست خارجی روسیه دارد بحیث عضو کومیکان شناخته شد. بعد از انکه روس ها و چینائی ها به دشمنی علنی پرداخته ویتنام بحیث یگانه نقطه اتکاء روسیه در منطقه گردید لذاء روس ها برای اینکه توانسته باشند قسمتی از بار مصارف نظامی ویتنام را برممالک اقمار تحمیل نماید ان مملکت را عضو رسمی (کومیکان) خواند.

ادامه دارد.

عبدالغفور شهید ولد محمد عثمان از قریه سمگ دولتیار ولایت غور مرکز چغچران در سال ۱۳۶۰ چشم به جهان کشود بعد از کودتای ننگین هفت ثور سال ۱۳۵۷ از جوانان پیشتاز وقهرمان سنگر حق بشمار میرفت تا اینکه با یک عالم قهرمانی و افتخارات که از خود به یاد گار گذاشت در محل سرغی در یک نبرد شدید در برج قوس سال ۱۳۶۰ جام شهادت نوشید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

دپلوم اینجنر عنایت الله شهید ولد محمد غازی خان در سال ۱۳۳۹ در قریه دولت زی در ولسوالی شولگره ولایت بلخ در



یک خانوادهٔ متدین چشم بجهان کشود تحصیلات ابتدائی را در مکتب تجربوی مزار شریف الی صنف هفت بعداً به لیسه احمد الخضرویه شولگره الی صنف (۹) و بالآخره به مکتب تخنیکم نفت و گاز مزار شریف الی صنف (۱۴) در رشته تکنالوژی به پایان رسانیده ، دپلوم خود را اخذ نموده و بتاریخ ۱۹ جدی سال ۱۳۵۷ در فابریکه کود و برق ایفای وظیفه نمود و بتاریخ ۴-۱-۱۳۵۸ توسط خلقی های وطن‌فروش بمقام والای شهادت نایل آمد.

(انا لله وانا الیه راجعون)



محمد حیات شهید ولد محمد ایاز مسکونه صوفی بابا ولسوالی بگرامی ولایت پروان بتاریخ ۱۰-۱-۱۳۶۱ به شهادت رسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)



سید محمد زمان شهید ولد سید محمد عارف مسکونه گروچ ولایت لغمان بتاریخ ۱۸-۱۲-۱۳۶۰ جام شهادت نوشید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید غلام نبی در علاقه داری
لولاش ولسوالی پښتونکوټ ولایت
فاریاب چشم بدنیا کشود مرد
مبارز و با ایمانی بود که بعد از
کودتای ننگین هفت ثور بخاطر
دفاع از حریم اسلام سلاح برداشته
وشجاعانه در سنگر ها علیه دشمن
متجاوز جنگید ، موصوف قوماندانی
جبهه ولسوالی پښتونکوټ را بعهده
داشت و بطور احسن این وظیفه
را در طی چهار سال پیشبرد که
بالآخره در یک رویا روئی با قوای
متجاوز روس بتاریخ ١٢-٩-١٣٦٠
بدرجه رفیع شهادت نایل گردید.
(انا لله وانا الیه راجعون)

محمد عمر شهید ولد حاجی
خان محمد مسکو نه ولسوالی
بره کی برک ولایت لوگر در یک
خانوادهٔ دیندار تولد گردید .
موصوف همیشه به انتظار شهادت
بوده که بالآخره قوای ملحد روسی

به منظور ریختاندن خون اطفال
بی گناه و معصوم و هزاران مردم
بی دفاع و بیوه زنان مجاهد منطقه
هدف شوم شانرا عملی ساخته باشند
بعد از مقاومت نه ساعته با روسها
و عمال وابسته اش بتاریخ
٢٨-٤-١٣٦١ جام شهادت نوشید.
(انا لله وانا الیه راجعون)



جمعه خان شهید ولد محراب
خان از ولسوالی انجیل ولایت
هرات در عملیات تاریخ
٢٤-٥-١٣٦١ به درجه شهادت
نایل آمد .

(انا لله وانا الیه راجعون)

مهردل خان شهید ولد محمد گل
از قریه پل الچین ولایت کندز
در یک عملیات شدید بعد ازینکه

دو تانک دشمن را طعمه حریق
ساخت خودش نیز در همین
عملیات در داخل سنگر در ماه دلو
١٣٦٠ بدرجهٔ شهادت نایل آمد .
(انا لله وانا الیه راجعون)



حیات الله شهید ولد حبیب الله
مسکونه قریه بایان علیا مربوط
مرکز ولایت پروان از جمله
اعضای فعال مجاهدین منطقه بوده
بعد از فدا کاری های زیاد در راه
پیش برد جهادمسلحانه بالاخره در
یک نبرد شدید بین مجاهدین راه
خدا و ملحدین روسی و اجیرانش
بتاریخ ٧-١١-١٣٦٠ به آرزوی
دیرینهٔ خود که شهادت بود نایل
گردید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

خواجه منصور شهید ولد خواجه محمد اسلم از ولسوالی خلم ولایت سمنگان یکتن از مجاهدین دلیر و با شهامتی بود که بالآخره دریک عملیات مسلحانه‌به شهادت رسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

خواجه‌مراد شهید ولدعبدالقیوم مسکونه حیدر آباد ولسوالی آقچه در یک عملیات شدید بتاریخ ۲۵-۱۲-۱۳۶۱ جام‌شهادت‌نوشید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

محمد عطای شهید ولد بهرام از قریه یوتراب ولسوالی سنگچارک ولایت جوز جان بتاریخ

۲۰-۱-۱۳۶۰ آ شهادت ، رسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید حضرت علی د محمد ولی زوی د کنړ ولایت د اسمار ولسوالی د درهٔ سین د کاځه گل د کلی په یوه دینداره کورنی کی زیږیدلی دی نوموړی د۱۳۵۸ هش کال د حمل په لوړی ورځ په وسله وال جهاد پیل وکړ او د خپل جهاد په اوږدوکی یی د سین دری په جبهه کی دهری دښمن ته درانه تاوانونه اړولی دی دغه سربښندونکی او په اسلام مین مجاهد په ۶-۷-۱۳۶۱ نیټه دلوی اختر په ورځ د دهری دښمن سره په یوه خونړی نښته کی وروسته له هغه چی یو زیات شمیر ملحدین یی جهنم ته ولیږل، د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)



شهید گلاب الدین د محمد عمر زوی د کندز ولایت د مرکز دزا خیلو اوسیدونکی او دزاخیلو منځنۍ ښوونځی زده کوونکی ؤ نوموړی سرتیری مجاهد د وسله وال جهاد په لړکی د خپلو څو نورو همسنگرو ورونو سره د لوگر ولایت د سپینی کلا په سیمه کی د یوی نښتی په ترځ کی د روسی قواؤ له خوا د ۲۴ کلنی په عمر په شهادت ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

خدا یار شهید ولد عبدالرحمن مسکونه ولسوالی آقچه در یک عملیات تاریخی ۲۲-۲-۱۳۶۱ جام شهادت نوشید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید قهرمان قوماندان عظیم الدین ولد نظام الدین مسکونهٔ چین زئی یکتن از مجاهدین با شهامت و شجاع بوده باوجود سرگروپی شان راکت چی فعال نیز بود درجریان جهاد چندین تانک و روسهای ملحد را بدست خود به جهنم اعزام نموده سرانجام بتاریخ ٤ حمل سال ۱۳٦۱ کاروان مهم از روسها که از تخار به طرف کندز در حال حرکت بود در عرض راه در حصه بنگی مشهور به چشمه میباشد از ساعت هفت (۷) بجه صبح الی یک بجه عملیات دوام داشت در همین صحنه عملیات مذکور توسط مرمی کلکوف از طرف دشمن به شهادت رسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)



شهید راه حق ملا خیر الدین ولد نظر بای ۳۸سال قبل در قریه کوران ولسوالی سنگچارک ولایت جوز جان در یک خانواده متدین چشم بجهان کشود تحصیلات خود را در ساحهٔ علوم دینی اکمال نمود در تربیهٔ اطفال به روحیهٔ اسلامی سهم بسزا میگرفت بعد از بمیان آمدن رژیم کمونستی در افغانستان عزیز کمر همت بسته به صفوف مجاهدین راه خدا پیوست و سر گروپی یک عده از برادران را بعهده داشت تا اینکه در اخیر ماه قوس ۱۳۵۸ روز عاشورا یوم جمعه توسط وابستگان روس جام شهادت نوشید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

عبدالواحد شهید ولد محمد رحیم مسکونه قریه لقی ولسوالی سرپل ولایت جوز جان در حملهٔ تاریخی ۲۰-٥-۱۳٦۱ از طرف کمونستان شهید گردید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

گلاب شاه شهید ولد نازنین شاه مسکونه قریه بابه خیل مربوط ولسوالی بگرام ولایت پروان در

یک برخورد شدید بتاریخ ۵ ۲جدی یوم جمعه سال ۱۳٦۰ بدرجه عالی شهادت نایل گردید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

امین جان شهید از قریه باغبانچه ولسوالی خلم ولایت سمنگان مجاهد خورد سال با قلب سرشار از ایمان در پهلوی سایر مجاهدین قرار گرفته در راه جهاد به هر نوع قربانی حاضر بود بالآخره به اثر بمباردمان روس توسط طیارات بمب افگن به سن ١٤ سالگی جام شهادت نوشید یادش گرامی باد .

انا لله وانا الیه راجعون

د جهاد...

متاثر شوی وی چه د اسلام باق
فرائض او وجائب اضافه تصور
کوی او که هر څه ناروا کوی
او یا په هره اندازه که بی بندو
باره وی خو چه د مجاهد لقب ئی
حاصل کړیدی نو معاف او غیر
مسئول دی رب العزت دی زمونږ
مجاهدو ورونو ته د دی عظیمی
قربانی تر څنگه کاملا تقوای اسلامی
اخلاق او معاشره او په هر کارکی
خلوص او با الا خره ثبات او
استقامت نصیب کړی امین ثم
آمین والسلام علیکم.

شهید گوید

گلشن خزان رسیدهٔ دین و وطنت
را بخونت آبیاری کنی. نه شود
که چون قارون به دنیا دل بندی
و شاهد رعنای عیش پنج روزهٔ
دنیا فریبت دهد و از راه راست
منحرفت کند:

دین به دنیا مده که هیچ همای
نه دهد پر به پرنیان و پرند

برادر!
یتیم سروپا برهنه و بیوهٔ پاره
گریبانم را فراموش مکن و خونم
را به بهای اندک مفروش که:
«شهیدم، شهیدم، شهید شمایم»

برادر شهید دورانخان ولد خان محمد خان مربوط ولسوالی سید آباد بتاریخ ۸-۲-۱۳۶۱ بدرجه شهادت نایل آمد.
(انا لله وانا الیه راجعون)

محمد یعقوب شهید ولد قرمخان از قریهٔ چغدان ولسوالی سنگچارک بتاریخ ۱۸-۸-۱۳۶۰ به شهادت رسید.
(انا لله وانا الیه راجعون)

عبدالمنان شهید ولد عبدالقادر مسکونه قریه ناوچ علیای سالنگ در حملـه وحشیانـه تاریـخ ۱۸-۳-۱۳۶۱ قـوای روسی و پرچمی ها با پنج نفر از برادران همسنگر خود بعمر ۱۸ سالگی جام

شهادت نوشید.
(انا لله وانا الیه راجعون)

عبدالرحیم شهید ولد عبدالحلیم شهید مسکونه قریه توالی خانقاه ولسوالی آقچه ولایت جوز جان در یک عملیات شدید با پدرش شهید عبدالحکیم در یک سنگر بتاریخ ۳-۱-۱۳۶۰ جام شهادت نوشید. (انا لله وانا الیه راجعون)

شهید عبدالقیوم ولد شاه باتر مسکونه قریه افغان تپه شبرغان در زد وخورد تاریخ ۲۵-۴-۱۳۶۱ بدرجه شهادت رسید.
(انا لله وانا الیه راجعون)

غنی کامه وال

اولوالعزمه رسولان

بسم الله الرحمن الرحیم

١- نوح علیه السلام

ولقد ارسلنا نوحاً الی قومه فلبث فیهم الف سنة الا خمسین عاماً فاخذ هم الطوفان وهم ظالمون»(١)

(١) ترجمه: او خامخا په تحقیق سره لیږلی و موږ نوح(ع) قوم د ده ته پس مدت ئی تیر کړ په دوی کی زر کاله مگر پنځوس کاله (کم له زرونه) پس و نیول دوی طوفان حال دا چه دوی ظالمان ؤ.

سورهٔ عنکبوت آیه ١٤

د ده نسب: نوح د لامک زوی دمتوشلخ لمسی او داخنوج «ادریس» کړوسی دی. ادریس د نوح لوی نیکه دی د ده نسب شیث علیه السلام ته چه د بابا آدم علیه السلام زوی دی، رسیږی د نوح او آدم علیه السلام تر منځ څه د پاسه یو زر (١...) کاله تیر شویدی. د

ژباړه:
د النبوة و الانبیاء له کتاب نه چې په عربي ژبه د محمد علي صابوني لیکنه ده.

تورات په روایت (١٠٥٦) کاله ښودل شویدی د بخاری شریف په استناد چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت کوی وائی «د نوح او آدم ترمنځ لس پیری ټولی په اسلام کی وی»

ابن کثیر په «البدایه و النهایه» کی وائی که مراد د پیری نه لکه څرنګ چه دخلکو تر مینځ رواج دی سل کاله وی نو زر کاله خو خامخا تیر شوی مگر دا د دی مانع کیدای نشی چه د زر کالو څخه دی زیات نه وی، کیدای چه دا زر کاله په اسلام کی وی او د زرو څخه زیات کلونه نور په غیر اسلام کی تیر شوی وی مگر د «ابی امامه» په روایت سره دا زمانه په لسو پیړیو کی منحصره شوی خو ابن عباس د الس واړه پیری په اسلام سره مقید کړیدی:

ابن حبان د آبی امامه نه روایت کړی چه یوه سړی وویل «یا رسول الله» آدم نبی ؤ؟ و یی فرمائل هو معلم هم ؤ! سړی وویل څومره زمانه د آدم او نوح ترمینځ تیره شویده. وی فرمایل لس پیری.

ابن کثیر ویلی دی چه حدیث د ابن عباس په هغه اهل کتابو او تاریخ دانا نور د دی چه هغوی وائی قابیل او د ده زوی د آور عبادت کاوه.

په قرآن کښی د نوح یادونه:

نوح علیه السلام په قرآن کریم کی (٤٣) ځایه ذکر شوی او د ده قصه په مفصل ډول سره دقرآن کریم په اکثره سورتونو کی راغلی ده چه له هغی جملی څخه الاعراف، هود، المومنون، الشعراء او القمر سورتونه دی

او د ده په نوم سره یو خاص سورة هم مسمی شویدی چه سورة نوح ورته وائی .

پدی ټولو سورتونو کی د ده بعثت رسالت او د دعوة د طریقی یادونه شوی او د ده د قوم سرکشی او انکار . او د تکلیفونو او ربړونو په مقابل کی لوی صبر د طوفان په واسطه د ده د قوم غرقیدل او مؤمنانوته د طوفان څخه د نجات ورکولو وضاحت شویدی . چه وروسته به پدی برخه کی په مفصل ډول سره څه نا څه رڼا واچول شی .

آیا نوح په ځمکه کی لمړنی رسول دی ؟

تاریخ پوهان وائی چه نوح علیه السلام لومړنی رسول دی چه الله پاک دی د ځمکی خلکوته را ولیږه او پدی باندی ئی مامور کړ چه خپل قوم د خدای د عذاب نه وویره وی . نو پدی اساس نوح علیه السلام

لومړنی رسول او لومړنی ویرونکی دی . لکه څرنګه چه الله پاک پدی مبارک ایات کی فرمائی :

«انا ارسلنا نوحاً الی قومه ان انذر قومک من قبل آن یأتیهم عذاب الیم»

ترجمه : بیشکه موږ لیږلی و نوح د ده قوم ته په دی باندی چه و ویره وه خپل قوم څخوالـه هغی څنی چــه راشی دوی ته عذاب درد ناک

سورهٔ نوح آیه(۱)

همدارنګه د شفاعت حدیث چه صحیحینو د هغی روایت کړی چه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی «چه دقیامت په ورځ د حشر په میدان کی به الله پاک ټول مخلوق را جمع کړی پدی ورځ به دلمر حرارت هم نهائی درجی ته رسیدلی وی او د غم او تکلیف نه به ډکه ورځ وی مخلوق به ډیر په تکلیف شی نو خلک به وائی چه دومره څوک نشته چه زموږ شفاعت وکړی چه حساب کتاب شروع شی نو بعضی به ووایی راځی خپل پلار آدم علیه السلام ته ور شو چه الله ته عرض وکړی چه حساب کتاب ، شروع شی نو په همدی اساس به ټول خلک آدم علیه‌السلام ته عرض وکړی، آدم علیه السلام به ورته ووائی چه الله پاک نه زه شرمیږم څکه چه ما نافرمانی کړیده د غنم په خوړلو سره زه عرض نشم کولی بل چاته ورشی بیا به نوح علیه السلام ته خلک راشی او ورته به ووائی چه ته خو لومړنی رسول د ځمکی د خلکو د پاره را لیږل شوی وی ته زموږ شفاعت وکړه نوح علیه السلام به ورته و فرمائی چه زه شرمیږم څکه چه زما قوم اکثرو ایمان را نه وړو . . . الخ حدیث «متفق علیه».

نو له دی‌نه معلومه شوه چه نوح علیه السلام دځمکی پرمخ لومړنی رسول ؤ مګر دا د دی معنی نه ورکوی چه مخکی له ده نه نور انبیاء ګوندی ندی تیر شوی بلکه د ده نه مخکی نور .

انبیاء هم تیر شوی لکه شیــث ، ادریــس او آدم علیهم السلام چه دوی انبیاء وو مګر رسالت د نوح علیه السلام نه شروع شوی ، لومړنی رسول نوح دی ، نه لومړنی نبی. نو په دی اساس د نبی او رسول ترمینځ فرق موجود دی . رسول هغه شخص دی چه وحی ورته په شرعه سره شوی وی او مکلف په تبلیغ سره وی .

نبی هغه شخص دی چه وحی په شرع ورته شوی وی مګر مکلف په تبلیغ سره نه وی .

د نوح علیه‌السلام عمر او ژوند:

نوح علیه السلام د ډیر ژوند او اوږد عمر خاوند ؤ په ټولو انبیا ؤ کی د ده عمر زیات او د اوږد دی مبارزی څښتن او په

ټولو رسولانو کی د ده تحمل او صبر د تکلیفونو په مقابل کښی یو ممتاز مقام درلود ، ده نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله خپل قوم ته تبلیغ وکړ او خپل قوم ئی په پټه او ښکاره شپه او ورځ د حق لوری ته دعوت کولو . مگر پدی دومره اوږده موده کی د ده دعوت او تبلیغ په قوم باندی هیڅ تاثیر ونکړ غیر له دی نه چه دی به ئی دروغجن باله او نور ناوړه نسبتونه به ئی هم ورته کول مگر ډیر کم ټولگی د ده پیروان شول او ایمان ئی پری راوړ لکه څرنگه چه قرآن کریم فرمائی :

«امن معه الا قلیل»

ترجمه : او نه وو ایمان راوړی له دغه (نوح) سره مگر خولږو خلکو .

سوره هود آیه ٤٠ .

څینو مفسرینو د مؤمنو کسانو شمیر لس (۱۰) کسان ښودلی چه د ده سره په کشتی کی یو ځای سپاره شول او څینی وائی چه څلویښت (٤٠) کسان وو . مگر صحیح روایت هغه دی چه د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت شوی دی چه آتیا (۸۰) نفسه ور سره وه چه د دوی سره ښځی هم وی چه د غرق کیدونه ئی نجات پیدا کړ همدا قول د اکثرو مفسرینو دی .

نوح علیه السلام د عمر په ټوله موده کی د ډیرو د ربړونو تکلیفونو او مشکلاتو سره مخامخ شوی او دده دعمر زیاته موده په تبلیغ او دعوت سره تیره شوی اودخپل قوم لخوا ډیر ربړیدلی مگر بیاهم ده خپل ثبات او استقامت له لاسه ندی ورکړی او د ډیر لوی صبر او زغم متحمل شوی چه عادی انسانان د هغی د طاقت څخه ناتوانه دی په همدی اساس انبیا ؤ په ټولگی کی د لویو صابرینو څخه شمیرل کیږی همدا وجه ده چه دی د همغو اولوالعزمو رسولانو له جملی څخه دی چه الله پاک په قرآن کریم کی حضرت محمد صلی الله تعالی علیه وسلم ته په خطاب کښی فرمائی :

«فا صبر کما صبر اولوالعزم من الرسل» .

ترجمه : صبر کوه تــه لکه صبر کړی و خاوندا نو د عزم تینگ د در دید لو رسولانو نه

سوره احقاف ۳۵ .

او د دوی په تگ لاری مامور کولی . چه هغه او الوالعزم رسولان پنځه (٥) کسان دی «نوح ، ابراهیم ، موسی ، عیسی، محمد علیهم السلام .

بعضی مؤرخین وائی کله چه نوح علیه السلام د رسالت په وظیفه تاکل کیده نو د ده عمر پنځوس (٥٠) کاله وه او (۹۵۰) کاله ئی خپل قوم ته تبلیغ کړیدی د طوفان او د قوم د هلاکت څخه وروسته دری نیم سوه کاله نورهم ژوندی و چه پدی اساس دده ټول عمریوزردری سوه او پنځوس (۱۳۵۰) کالو ته رسیږی دا د توراة د روایت په اساس و چه موږ ذکر کړ مگر بیاهم دا قطعی دلیل نشی کیدلی څکه چه په توراة کی څینی تحریفات او تغیرات راغلی دی نو د اطمینان وړهم نشی کیدای . دا چه نوح علیه السلام (۹۵۰) کاله په خپل قوم کی پاتی شوی دا یو ثابت . قطعی او یقینی دلیل څکه کیدی شی چه الله پاک په قرآن کریم کی ذکر کړی دی .

«فلبث فیهم الف سنته الاخمسین عاماً» :

ترجمه : پس مدت ئی تیر کړ په دوی کی زر کاله مگر پنځوس کاله کم له زرو نه سورهٔ عنکبوت ١٤ .

د نوح علیه السلام د قوم بت پرستی :

په قرآن کریم کښې د نوح علیه السلام په قصه کې دی ته اشاره شوی چه نوح علیه السلام په داسی حال کښې خپل قوم ته راغی چه د ده قوم مشرک ؤ بوتانو او مجسمو ته ئې عبادت کاوه غیر د الله نه ئې نور ډیر خدایانئې نیولی و او پهدیباندی ئې عقیده درلوده چه دا نور خدایان او بتان انسان ته خیر او شر ضرر او نفع رسولی شی .

د نوح علیه السلام قوم اولنی قوم و چه د ځمکی پر مخ ئې بت پرستی او شرک مروج کړ نو پدی اساس الله پاک نوح علیه السلام دی قوم ته راولیږه چه قوم د بت پرستی څخه و ویره وی او منع یې کړی الله فرمائی

(انا ارسلنا نوحاً الی‌قومه‌ان انذر قومک من قبل أن یاتیهم عذاب الیم قال یا قوم انی لکم نذیر مبین وان اعبدو الله والتقوه واطیعون «الایه . . .» .

ترجمه : بشیکه سونږ لیږلی و نوح قوم د ده ته په دی سره چه وویر وه ته قوم خپل پخوا له هغه ځینی چه را شی دوی ته عذاب دردناک وویل (نوح) ای قومه بشیکه زه تاسی ته ویر وونکی ښکاره یم چه بندگی کوی تاسی الله ته او وویریږی له الله ځنی او و سنی تاسی خبری سوره نوح آیه ۳ .

د نوح علیه السلام د قوم نه مخکی انسانانو شرک او بت پرستی نه پیژنده او خاص د الله عبادت ئې کاوه خاص مؤمنان او یوازی د الله بندگان و په همدی اساس الله(ج) تر ده د مخه ویرونکی او منع کونکی رسول نهؤ را لیږلی‌نوح علیه السلام یو اځنی ویرونکی او منع کونکی رسول دی چه د «بنی راسب» قوم ته ئې راولیږه دا ځکه چه دا قوم ډیر بی لاری گمراه ، معاند او سرکش قوم ؤ نو نوح علیه السلام ورته الله پاک په ښکاره برهان او قوی دلائلو سره راولیږه مگر نتیجه ئې بی د سخ اړولو ، بی عقلی ، تمسخر او استهزاء نه نور څه نه وه . لطفاً په سورهٔ نوح کې دی مبارک آیت ته متوجه شی .

«قال رب انی دعوت قومی لیلاً ونهاراً فلم یزدهم دعائی الا فراراً وانی کلما دعوتهم لیغفرلهم جعلوا اصابعهم فی اذانهم‌واستغشو ثیابهم واصروا او استکبروا استکباراً ثم انی دعوتهم جهاراً ثم انی اعلنت لهم واسررت لهم اسراراً» .

ترجمه : وویل (نوح) ای ربه ځما بیشکه ما دعوت کړ قوم خپل شپه او ورځ نو زیات نکړ دوی ته بلنی ځما مگر تیښته او بیشکه زه هر کله چه و بولم دوی د دی د پاره چه و بخښی ته دوی . نو نه باسی دوی گوتی خپلی په غوږو خپلو کی او نغښتلی ئې ؤ ځانونه خپل په جامو خپلو . او همیشه والی کوی (په کفر خپل) او سرکشی کوی سرکشی کول .

بیا بیشکه ما وبلل دوی په ښکاره . بیا بیشکه ما ښکاره وینا وکړه دوی ته او په پټه سی وینا وکړه دوی ته په پټوالو سره .

سورهٔ نوح آیات : ۹

د اچی مخکی مو وویل چه د نوح علیه السلام د قوم نه پخوا ټول خلک مؤمنان ؤ شرک او بت پرستی ئې نه پیژندله په همدی اساس الله پاک د رسولانو د رالیږلو سبب په قرآنکریم کې داسی توضیح کوی :

«کان الناس امة واحدة فبعث الله النبیین مبشرین ومنذرین وانزل معهم الکتاب بالحق لیحکم بین الناس فیما اختلفوا فیه» .

ترجمه : و و ټول خلک په ابتداء کی یو ټولی . په یو حق دین «بیا ځینی مسلمانان او ځینی کافران پاتی شو» پس و لیږل الله

پاتې په د ۹۴ مخ کې

سخنی از فائز

داستان پیس، کل و کور

ترجمه از عربی

امام بخاری و امام مسلم(رح) هر دو از ابو هریرة(رض) روایت میکنند که ابو هریرة از حضرت محمد(ص) شنیده میگفت : سه نفر (پیس، کل و کور) از قوم اسرائیل را ، خداوند(ج) تحت امتحان قرار داد ، لذا فرشته یی را به ایشان فرستاد .

فرشته نزد پیس آمد و گفت :

فرشته : چه چیز را بیشتر دوست داری ؟

پیس : رنگ خوب و پوست زیبا و اینکه ازین مرضیکه مردم بخاطر آن از من کراهیت دارند صحت یابم. فرشته بالای پیس دست کشید، پس صحت یافت و خداوند(ج) رنگ مقبول و زیبا را نیز برایش اعطا فرمود .

فرشته : کدام جنس مال را خوشداری ؟

پیس : اشتر را .

خداوند(ج) اشتر های ماده را که حمل ده ماهه را بشکم داشت به او اعطا فرمود.

فرشته: خداوند(ج) به اشترهایت افزایش دهد .

سپس فرشته پیش کل آمد وگفت :

فرشته : چه چیز را بیشتر دوست داری ؟

کل : موی زیبا و اینکه خداوند(ج) مرا از کل بودن که مردم بخاطر آن از من کراهیت دارند صحت دهد .

فرشته برسر کل دست کشید ، او صحت یافت و خداوند(ج) برایش موی زیبا اعطا فرمود . . .

فرشته : چه چیز را از مال بیشتر دوست داری ؟

کل : گاو را .

خداوند(ج) برایش گاو های حامله را اعطا فرمود .

فرشته : خداوند(ج) به گاوهایت افزونی بخشد.

بعداً فرشته پیش کور آمد وگفت:

فرشته : کدام چیز را بیشتر دوست داری ؟

کور : بسیار دوست دارم که خداوند(ج) چشم های سالم را دوباره برایم اعطا فرماید تا ذریعهٔ آن مردم را ببینم.

فرشته بر چشم کور دست کشید، چشمش بینا گردید.

فرشته : پس کدام جنس از مال را بیشتر دوست داری ؟

کور : گوسفند را بیشتر دوست دارم.

خداوند(ج) گوسفندهای شکمدار را به او اعطا فرمود .

اشتر ها ، گاو ها و گوسفند ها چوچه ها زائیدند بعد از چندی آن یکی یک وادی کامل از اشترها و آن دیگری یک وادی کامل دیگری از گاو ها و سومی یک وادی کامل از گوسفند ها داشت بعد از آن همان فرشته با همان صورت و شکل خود نزد پیس آمد و گفت :

فرشته : من شخص مسکین و بی پول هستم و هر چه داشتم آنرا درین سفرم به پایان رساندم هیچ چیزی ندارم که توسط آن بجای بر سم به لطف پروردگار و کمک شما چشم براه میباشم ، بنام آن ذاتیکه به تو رنگ مقبول و قیافه زیبا و مال زیاد ارزانی فرموده اگر یک اشتر را برایم معاونت کنی تا درین سفر ما را بجای برساند .

پیس : حقوق بسیـار زیـاد است ! ! . . . (رسیدگی نمیتوانم)

فرشتة : فکـر میکنم تـو را می‌شناسم آیا توهمان پیس نمیباشی که مردم از تو کراهیت داشت؟ هیچ چیزی نداشتی خداوند(ج) به تو دارایی داد ؟

پیس : این دارایی را من از پدر و پدر کلان به میراث بردم .

فرشته : اگر تو دروغگو باشی، خداوند(ج) تو را دوباره بحالت اولی ات بگرداند .

فرشته بعداً با همان صورت و شکل خود نزد کل آمد و گفت :

فرشته : من شخص مسکین و بی پول هستم و هر چه داشتم آنرا درین سفرم خرچ کردم اکنون هیچ چیزی ندارم که توسط آن خود را بجای برسانم ، الحال به لطف پروردگار و کمک شما چشم براه هستم ، بنام آن ذاتیکه به تو موی زیبا و چهرهٔ مقبول و دارایی زیاد بخشیده اگر با من یک گاو را کمک کنی تا ذریعهٔ این کمک شما درین سفرم بمنزل مقصود رسم .

کل : حقوق بسیار زیاد است!!. . (رسیدگی نمیتوانم)

فرشته : فکر میکنم تو را می شناسم آیا تو همان کل نمیباشی که مردم از تو کراهیت داشت ؟ هیچ چیز نداشتی ، خداوند(ج) به تو دارایی داد ؟

کل : این دارایی را من از پدر و پدر کلان خود به میراث بردم .

فرشته : اگر تو دروغگو باشی، خداوند(ج) تو را دوباره بحالت اولی ات بگرداند .

فرشته بعداً با همان صورت و شکل خود نزد کور آمد و گفت :

فرشته : من شخص مسکین و بی پول هستم و هر چه داشتم آنرا درین سفرم خرچ کردم اکنون هیچ چیزی ندارم که بوسیلهٔ آن خود را بسر منزل مقصود برسانم ، الحال به لطف پروردگار و کمک شما چشم براه هستم ، بنام همان ذاتیکه به تو دوباره چشم بینا داد ، اگر به من یک گوسفند را کمک کنی تا توسط آن درین سفرم بجای بر سم .

کور : من نابینـا بـودم ، خداوند(ج) دوباره به من بینائی عنایت فرمود ، لذا هر چه خواسته باشی اخذ کن و هر چه میگذاری بگذار ، سوگند به خداست ، خاص بمنظور حصول رضای خدا به تو هیچ چیز نخواهم گفت .

فرشته : مال خود را نگهدار ! حقا که شما تحت امتحان قرار داده شدید ، بدون شک خداوند(ج) از شما راضی و بر هر دو رفیقت خشمگین است . . .

د پاکو وینو او تودو اوښکو نذرانه

لیکنه: محمد نسیم ستانیزي

هر چیرته یې شمیره سرې پراته دي ، زمکه تږوله په وینو سره ده د وینوله ډیر ښت نه د شفق سترګې هم دوینو ډکې پیالې ښکاري د انسانیت ویده وحشت او سبوعیت بیا را ویښ سویدي او د زمکې پرمخ یې دوینو رود روان کړیدي .

دا ته لس ملیونه مؤمنو افغانانو، احساسات ، جذبات ، هیلې اواسرې ټولې پرهارژلې دي .

په ګرده نړی کې د وحشت او بربریت لمبې بلې دي ، دقابیل خلف صالح بیا د هابیل په بې ګناه زامنو پسې د کمزوري په جرم داستکبار سره چاړه له تیکې را ایستلې ده .

د وخت فرعون د حق آواز د خفه کولو لپاره بیا د ماشومانو پله ئیزي وژنې ته ملاتړلې ده .

د ابراهیم (ع) پلویانو ته بیا د وخت نمرودانو او رونه بل کړي دي . او د سکروټو بارانونه پرې له هوانه راوروي .

زموږ د پیړی ابرهه بیا له خپلو پولادي پیلانو (ټانګونه) سره د مسلمانانو د عباد تځایونو د ویجاړولو نیت کړیدی ، د دی لپاره چه په سره میدان کې د ژوندي ښت پلویان زیات شي او نړیوال د خپل عقیدت نذرانې د سرو لیوانو مشرته وړاندې کړي .

دموسی(ع) قوم (یهود) له خپلې بې لارې نه د لومړی قبلې (بیت المقدس)دویجاړولوهڅه کوي اوستاد محبوب پیغمبر(ص) د امت ورکولوته یې ګواښ کړیدی .

خدایه !

ستاد محبوب پیغمبر امت نتلې او ویرژلې ژوند تیروي له هغوی سره د خپلې جونګړې او خپلې کوډلې د وراند و غم نشته یتیم په ژړا پوخ دي .

له هغوی‌سره دا اندیښنه ده چې داخو ډب ، جګړو اووینو تویولو دغه وحشي توپان هسې نه د نړۍ د مستضعفینو شنې جنډې له ځایه بې ځایه کړي .

هسې نه د لیوانو او پړانګانو دغه ستر لښکر د مومنانو کاروان له منزل نه ایسار کړي ، هسې نه هغوی دا لار شاړه کړي هسې نه ، (نه ! خدای مکړه) دهغوی ناولې قدسونه د کعبې درشل ته ، داستکبار په وړاندې د نړۍ د مستضعفانو سنګر ته ورسي ، هغه ځای ته چې د طاغوتیانو د سترګوا غزې پکې رالوې شویدي ، روزل شویدي او روزل کیږي ، هغه ځای ته چې دتوحید د مشال رڼائې د نړۍ داستکبار، او جهالت وحشي توپانونو هم تیته نکړای شوه .

خدایه !

زموږ په ژوند دا فتونو ، مصیبتونو او کړاوونو توره تیاره خوره ده . د ډیرو بمباریو له اسله سو ودان کلې په شاړو میرو او بې بیدیاوؤ او وښتې ، دکنډ والو ولیدلې او کنډو د یوالونه د شهیدانو په وینو سره دي ،

د ژوند تیرولو ټول وسایل له مینځه تللی دی . هره خوا د باروتو (بارود) ساه تنګوونکی بوی او لوګی خپور دی په فضا کی دبم غورزوونکو الوتکو ویروونکی او هیبتناک‌خږ دانسان غونی‌زیږه‌کوی، ماشومان ورځنی د مور په غیږکی پټیږی ، او بوډاګان په غوږوونوکی ګوتی ږدی . ځوانان یی په ږچو پرچه ، پرچه شی ، د چاټتر سوری ، سوری وی ، د چالاس ورک وی او د چاپښی روغـــی ماتی سوی وی ، ځوک په وژونکی ګاز سره په ټپو ړوند سوی وی هره خوا تپریږی او تیند کونه خوری .

وریځو ، ای تورو ، ګورو وریځو ! د خدای پار دی لیری شی ، له مخی لیری شی !

زموږ د مظلومانو ، کونډو ، بورو ، وارارو او یتیمانو سرو اسویلوته ،

زموږ د پرهارژلو ، غم ځپلو په خپلو وینو لمبیدلو خلکو آه او فریاد ته ،

زموږ د خوارانو ، بزګرانو ، بی وزلانو او نیستمنو ګیلو ته بوډاګانو ،

زموږ د سور مرو ماشومانو ، پرهارژلو ، زخمی زړو ګوډو ماتو آه او زاریوته ،

لار ورکړی ، لار ورکړی .

لری شی ، له مخی لری شی !

ای دنتلو او اسکیرلو دعاګانو !

ای دماشومانواسویلواو!سپیځلو ګیلومانو!

خدای (ج) ته عرض وکړی درخواست وکړی، چی ای خدایه!

د وخت او حالاتو د توندی سیلی مخ له موږ نه واړوه، د ویر ، غم او ناتار دغه توپان زموږ پر میر ځمنو راوله .

د وخت د فرعون په وړاندی له موږ سره د موسی (ع) په څیر مرستندوی شه ، زموږ د کونډو او یتیمانو او ښځی او د شهیدانو وینی هغه ته د نیل څپاند سمندر کړه .

زموږ اسویلی هغه ته د نوح توپان کړه .

ای خدایه !

په دغه ابراهیمی از میبنت کی مو مخ سورتیا په برخه کړی ، داور له لمبونه مو د خپل رحمت په پردو کی پټ وساتی د سکروټو له باران نه مو د خپل کرم په وجه روغ وساتی.

دوخت ابرهه (بریژنیف) سرماتی، پښی ماتی او شرمیدلی او مخ توری لاړ نو ، د هغه پولادی پیلانو (ټانکونو) ته د مجاهد د توپک هره ګولی د ابابیلو ګیټکی کړه .

ای خدایه !

د لیوانو او پړانګانو دغی خو نړی رسی ته د توحید زمریان راو پار وه .

ای خدایه !

زموږ د پرهارژلو پرهارونه لتانه مرهم غواړی لتانهٔ رحم و کرم غواړی لتانه ـ ـ ـ

زموږ وږی له تانه خواره غواړی .

زموږ بربنډ لتانه جامی غواړی.

رحم وکړه ای خدایه .

ته خپل رحم او کرم وکړ ، که موږ ته هېر کړی‌ئی ولی ته مهربانی را سره وکړه ،

ای خدایه !

زموږ اعمال ناوړه دی ، ګناه ګاریو ،

د هوس لمبو مو د عقل بڅری سکاره کړیدی بدکاریو ،

د حرص او طمعی تیاری مو سترګی ړندی کړیدی ،

د مال او شتو ړنامو سترګی بریښولی دی ،

د کبر او غرور پیریان مو پر سر ناست دی ،

نفاق او ورور وژنی ته سوملاوی ترلی دی ،

تر دی ناوره مولا نور هم

پاتې په (۹۴) مخ کې

د افغانستان د کربلا شهیدان

د اسلامي تحریک ځلانده ستوري

شهید عبدالاحد

بسم الله الرحمن الرحیم

ولا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا بل احیاءعندربهم یرزقون.

د اسلامی تحریک ځلانده ستوری

د ظلمت توری تیاری وی استبداد او بی عدالتی وه ظلم ؤ او فحشا ، ظالم حاکمان ؤ او دهغوی ناولی چاپلوسان دکمونیزم حامی رژیمو ؤ استعمار او استعمار گرانه خدمت کول ، اولس او قوم په نا خبره حالت نژدی ؤ د استعمار د نوکرانو په لاس د استعمارپه لمن کی ولویږی مسلمانان د دوی په نظر محکوم و اسلامی نهضت او اسلامی تحریک د خو نړی سیلاب په شان چی د لویو لویو غرونو د هسکو او ژورو څخه په طوفانی حالت د راتگ او وراندی تگ په حال کی ؤ د شرق او غربی استعمار کړی په غوړی غلامان ئی له یوی خوا وار خطا کړی او له بلی خوا ئی خپل شوی مادی منافع د خطرپه حال کی لیدلی ځکه اسلام او اسلامی تحریک ورسره محاسبه کول غوښتل ، خو هغه د ظلم او فحشا و دور او د زمانی د طاغوتیانو په خدمت کی فاسد

رژیم د ظاهر شاه زمانه او دوره . ولی اسلامی نهضت او اسلامی تحریک د کمونیزم د حامی او کړی په غوړی غلام په واسطه په مستقیم او غیر مستقیم ډول تکول کیده او د استعماری بادار په دستور سره د اسلامی تحریک قایدین او بارز خلک په زندانونو محکوم او تعذیبیدل خو دا اسلامی تحریک د افرادو په زندانی کیدلو او شهادتونو خفه نشولا نورهم پرمخ لاړ او قوت یې وموند یو موټی قوت ئې په یوه خروار بدل شو اسلامی تحریک د کمونیزم د حامی رژیم تولواک (ظاهر شاه) په زمانه کی سره لدی چی د هر رنگه تعذیب، او کړاونو سره مخ وه خو ژرئی انسجام و موندلا منظم شو د خونړی طوفان د څپو په څیر د ښاردرو او عامه اولس په اذهانو کی مقبول وګرزید څکه عامه اولس مسلمانان ؤ اسلام او اسلامی قانون او د خدای قرآن ئې غوښتنه وه ترڅو د خدای (ج) قرآن په اولس حکومت وکړی د اولس د غوښتنې نماینده تحریک همداد ځوانانو اسلامی تحریک ؤ د زمانی د طاغوت سره د مقابلی ډگر ته راوتلی ؤ د خدای (ج) په لار کی یې زندان ریاضت او وژل شهادت او تبعیداو هجرت یوه اسلامی فریضه گڼله اما کله چی روسان پدی پوهیږی چی د ځوانانو اسلامی تحریک د کامیابی په د رشل کی ولاړ دی ممکن په لږ وخت کی د ظاهر شاه رژیم او د هغه پلویان د مومنو مجاهدینو په لاس نسکورشی او د خپلو بدو اعمالو په سزا ورسیږی د ظاهرشاه د کمونیزم حامی نسکوریدل د مومنو مجاهدینو په لاس روسانو د خپل استعماری دولت لپاره یوه لویه ضربه گڼله په دی فکر شول که دا د اسلامی ځوانانو تحریک په افغانستان کی حکومت ترلاسه کړی نو په روسیه کی به د استعمار لاندی محکوم مسلمان میشته خلک د خپلی آزادی په هکله تصمیم ونیسی پدی ویره ئې د ظاهرشاه د رژیم د له مینځه وړلو پلان پکار واچاوه په جعلی کودتا سره ئې د پردی ترشاد (کی - جی - بی) د جاسوسانو د اعضاو څخه یو پخوانی پوخ جاسوس (داؤد) صحنی ته رابنکاره کړ ترڅو په جانی جلاد داؤد باندی د ځوانانو اسلامی بارز تحریک وتکوی د روسانو احمق لیونی دوست د افغانستان د مومن ملت دښمن (داؤد) په ډیره احمقانه او سفاکانه توگه د اسلامی تحریک په تکولو پیل وکړ په ډیرشرم او ننگ سره ئې د خپلو استعماری بادارانو (روسیه) په دستور العمل زمونږ د مومن اولس اصیل او بادرده مومن ځوانان زندانونو ته وغورځول ترڅو پدی مطمئن شی چی د زندان په بوگنوونکو سلولونو کی د مومنینو زندانی کیدل به نور اسلامی تحریک ختم کړی خو دا د دی جلاد احمق الکولی منطقه انسان (داؤد) خیال خوب او تصور ؤ چی په زندان او تعذیب د یوه اسلامی تحریک خفه کول او له مینځه وړل له خوب او خیال

